د انګلستان او ویلز د حقوقدانانو

د بشر د حقوقو کمیته

(BHRC)

# د ښځو پرضد تشدد: بین الدول حقوق

افغانســــتان

می ۲۰۰۸ کال

د انګلستان او ویلز د حقوقدانانو
د بشر د حقوقو د کمیټې نشرات
لندن - (BHRC)

# د مطالبو فهرست


لومړئ - د بین الدول حقوقو اصول ...................................................... ۵
د ښځو پرضد دتشدد تعریف ........................................... ۶
نړیوال اسناد ........................................................... ۶
د ۱۹ نمبر عمومي تجویز لنډیز ..................................................۸
تشدد هم تعذیب دی ................................................... ۱۳
وسله وال کړکیچونه ..................................................... ۱۳
دملګرو ملتونو د سرمنشي د۲۰۰۶ کال ژوره څیړنه ..................... ۱۵
سیمه ایز تړونونه / اسناد ................................................ ۱۵

دوهم – دولتي اقدامات ................................................۱۶
حقوقی سیاست........................................................... ۱۶
جزائی عدلی نظام ...................................................... ۱۷
مجنی علیه ته رسیدګی ................................................. ۱۷
حمایتی خدمتونه .......................................................۱۷
دعاداتو او رواجونو بدلون.............................................. ۱۸
ظرفیت جوړونه اوروزنه ................................................. ۱۸
ارقام او احصائیه.......................................................... ۱۸

دریم ـ دمقایسوي نړیوالو حقوقو قضائي آرا ـ اجباري زنا .................. ۱۹
د رواندا لپاره دجزأ نړیواله محکمه ....................................... ۱۹
دبشر د حقوقو بین الامریکایي محکمه ............................... ۲۱
د بشر د حقوقو اروپایي محکمه.......................................... ۲۲
د هندستره محکمه.......................................................... ۲۴

# د ښځو پرضد تشدد : بين الدول حقوق

## لومړئ - د بين الدول حقوقو اصول

هر شخص د انسان تر نامه لاندې د خاصو بشري حقوقو څخه برخمند دئ. ملګرو ملتونو او همدا راز د بشري حقوقو سيمه ايزو سازمانونو لکه د اروپا شورا او د اروپا اتحاديې د ښځو بشري حقوق او د هغو د ساتنې په لاره کې د حکومتونو وجايب او دندې په ټاکلې توګه په رسميت پيژندلي دي.

د ښځوبشري حقوق په هغومعاهدو ،تړونونو،پريکړه ليکونو، اعلاميو او لارښودونو کې تسجيل شوي دي کومې چې يا د ملګرو ملتونو او يا دبشري حقوقو د يوې سيمه ايزې ادارې له خوا وړاندې شويدي.دا تړونونه وروسته بيا د ملي حکومتونو له خوا په رسمي توګه تصويب شويدي چې په دې توګه يې همدې حکومتونو ته قانونې الزامي دندي ورپه غاړه کړيدي. هر يوه هيواد چې د بشر د حقوقو يوه معاهده لاسليک کړې وي بايد دا تضمين کړي چې د هغه د اتباعو د بشر حقوق به خوندي ساتي. دا پدې معنا ده چې حکومت د بشر د حقوقو څخه د سرغړونې نه ډه ډه کوي او تعهد لري چې د دې ډول سرغړونو د مخنيوي لپاره مثبت ګامونه اوچت کړي.

د بين الدول حقوقو د اصولو سره سم ، ټاکلې اجرائيوي ادارې چې اکثراً تخصصی ادارې، کميټې او يا خاص رپوټچيان دې ، د يوه هيواد دبشر د حقوقو حالات څاري. دا ادارې د بشر له حقوقو څخه د سرغړونو په هکله رپوټونه او شکايتونه چې عموماً د غير حکومتی سازمانونو او کله هم د انفرادی اشخاصوله خوا وړاندې کيږي ، تر څيړنې لاندې نيسي.

د بشر د حقوقو نړيوالو قوانينو د ښځو پرضد تبعيض او تشدد په څرګنده توګه منع کړی، د ښځو د بشري حقوقو د ساتنې او ودې په وړاندې يې د حکومتونو دندې او وجايب ټاکلي او د ددغو دندو د نه ترسره کولو په صورت کې يې د حکومتونو د ځواب ورکولو ميکانيزمونه غوره کړيدي.

## د ښځو پرضد دتشدد تعریف

د ښځو پرضد د تشدد د له منځه وړلو په هکله دملګرو ملتونو په اعلامیه[1] کې راغلي دي چې د ښځو پرضد تیری:

"دجنسیت پر اساس هر هغه د تشدد عمل چې ښځو ته دجسمي، جنسي یاروحي کړاوسبب شي او یا هم هغوی په ورته اعمالو وویرول شي ،په ټولنیز یاشخصي ژوند کې زورزیاتی، جبر او د آزادۍ سلبول . "

د جنسیت پراساس د ښځو پرضد تشدد هغه زورزیاتی دی چې "پریوې ښځې باندې په دې سبب چې هغه ښځه ده تعمیل شي اویا داچې پر ښځو باندې په غیرمتناسبه توګه اغیزه وکړي ".

د ملګروملتونو په اعلامیه کې د تشدد ددې تعریف د ځینو تعبیرونو له مخې د ښځو پرحقوقو سترګې پټول او یا د هغوی سلبول هم کیدای شي د ښځو پرضد دتشدد په ډله کې وشمیرل شي. د نړیوالو حقوقو په نویو اسنادو کې دې تعریف پراختیا موندلې او جوړښتي تشدد هم پکې ورګډ شویدی.د ښځوپرضد تشدد دا لاندې بڼې لري خو یوازې په هغوی پورې نه محدودیږي:

- په کورنۍ کې تشدد
- په ټولنه کې د ښځو پرضد تشدد
- د جنسیت پې اساس تشدد چې ددولت له خوا ترسره او یا اغماض شي.

د تشدد په پورتنیو بڼو کې اصلي موخه کیدای شي جسمي، روحي یاجنسي وي. کیدای شي چې تشدد پرحقوقو باندې په سترګوپټولو او یا د حقوقو د سلبولو له لارې وي ، سره له دې چې په څرګنده توګه اعمال نشي. تشدد یوازې په پورتنیو بڼو سره نه منحصر کیږي.

## نړیوال اسناد

دبشر د حقوقو نړیواله اعلامیه ( کال۱۹۴۸) – دملګرو ملتونو د بشري حقوقو د نظام اساس ګڼل کیږي او دا حکم کوي چې هرشخص باید بیله تبعیضه د بشر له حقوقو څخه ګټه واخلي.

- **۳** ماده: هر شخص د ژوند ، ، آزادۍ او شخصی امنیت حق لري

[1] دملګرو ملتونو عمومي غونډه ،ددسمبر ۲۰ کال ۱۹۹۳.

- **۵** ماده : هیڅ شخص ترتعذیب یا ظالمانه،غیرانساني اوتحقیرآمیزه چلند او مجازاتو لاندې نه شي راتلی.
- ۸ ماده : هر شخص حق لري چې په ملي محکمو کې د هغو اعمالو اغیزمنه رسیدګي وکړي کومو چې په اساسي او نورو قوانینو کې دده مندرج حقوقو نقض کړي وي.

ځینې نور نړیوال اسناد چې په مشخص ډول د ښځو سره تړاو نه لري هم د تشدد په وړاندې له ښځو څخه ژغورنه کوي. د بیلګې په توګه د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون [۲] په کلي توګه له انسان څخه د تشدد په وړاندې ساتنه کوي.

- ۷ ماده : هیڅ شخص تر تعذیب یا مستبدانه،غیربشري او تحقیرآمیزه چلند یامجازاتو لاندې نه شي راتلی.
- **۹** ماده: هر شخص د آزادۍ او شخصی امنیت حق لري.

د ښځو پر ضد د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو تړون [۳] له غړو هیوادونو څخه (هغه هیوادونه چې د تړون په وړاندې یې ژمنې کړې وي) په څرګنده توګه دا غوښتنه کوي چې "د ښځو پرضد د یوه شخص، سازمان یا ادارې له خوا دتبعیض د له منځه وړلو لپاره په ټولو لازمو اقداماتو لاس پورې کړي ". له تبعیض نه د خوندیتوب حق له هغو مهمو او اساسي حقوقو څخه دی چې په هیڅ حالت کې باید له نظره ونه ایستل شي . که څه هم د ښځوپرضد دتبعیض دله منځه وړلو تړون په مستقیمه توګه د ښځوپرضدتشدد ته ګوته نه نیسي، مګر ددې تړون د تبعیض ضد مفردات او مواد په غیرمستقیمه توګه د تشدد په مقابل کې د ښځو ژغورنه کوي. په ۱۹۸۲ کال کې د ښځوپرضددتبعیض دله منځه وړلو د تړون د عملي کیدلودڅارنې لپاره د ښځوپرضد دتبعیض دله منځه وړلوکمیټه جوړه شوه. دې کمیټې دا اعلان کړه چې په تړون کې د تعریف سره سم د ښځوپرضد هر ډول تشدد هم تبعیض ګڼل کیږي. دا کمیټه په منظمه توګه پر غړو هیوادو باندې ږغ کوي چې د تشدد د له منځه وړلو په لاره کې لازمو تدابیرو ته لاس واچوي.

له تشدد څخه د ښځو د خلاصون حق د ښځوپرضد د تبعیض د له منځه وړلو د کمیټې په ۱۹ [۴] نمبر تجویز کې هم یادشوی دی .دې تجویز په قاطعانه توګه د تشدد او تبعیض ترمنځ اړیکه ښودلې او ټینګار کوي چې د ښځو پرضدتشدد د جنسیت پراساس یو تبعیض دی او داتبعیض ددې ډول تشدد یو اساسي علت دی.

---

[۲] د ۱۹۷۶ کال د مارچ په ۲۳ نیټه د اجرا وړ وګرزید.
[۳] د ۱۹۸۱ کال د سپتمبر په ۲ نیټه د اجرا وړ وګرزید.
[۴] دا تجویز د ښځو پر ضد دتبعیض د له منځه وړلو د کمیټې له خوا د هغې کمیټې په ۱۱ غونډه کې په ۱۹۹۲ کال کې وړاندې شو.

**د ۱۹ نمبر عمومي تجويز لنډيز**

۷. د جنسيت پر اساس تشدد ښځې له هغو بشري حقوقو او اساسي آزاديو څخه بې برخه کوي کومې چې په بين المللي حقوقو او د بشري حقوقو په نړيوالو تړونونو کې ذکر شويدي. نو ځکه هم داډول تشدد د CEDAW تړون د لمړۍ مادې سره سم يو تبعيض ګڼل کيږي. پورتني حقوق او آزادۍ دادي:

۱. دژوندحق ؛
۲. تر تعذيب،ظالمانه، غيرانساني او تحقيرآميزه چلند او مجازاتو لاندې د نه راتللوحق ؛
۳. دبشري نورمونو سره سم د نړيوالو او کورنيو وسله والوشخړو په وخت کې د مساوي محافظت او خونديتوب حق ؛
٤. دآزادۍ او شخصي امنيت حق ؛
٥. تر قانون لاندې د مساوي خونديتوب حق؛
٦. په کورنۍ کې د مساوات حق؛
۷. دجسماني او روحي سلامتيا ترټولو لوړ ممکن حد ته د لاسرسۍ حق ؛
۸. د کار د عادلانه او مساعدو شرايطو حق.

۸. دا تړون د ددولتي مقاماتو له خوا د تشدد د ترسره کولو په هکله هم صدق کوي. دتشدد داډول اعمال پردې تړون سربيره د نړيوالوبشري حقوقو د قانون د نوروتړونونو په وړاندې ددولت له تعهداتو څخه سرغړونه ده.

۹. په دې ټينګار شوی دی چې په تړون کې يادشوی تبعيض يوازې ددولت له خوا اويا دهغه په استازيتوب په ترسره شوو اعمالو پورې محدود نه دی (د۲ مادې (هـ) فقرې ، د۲ مادې (و ) فقرې او ۵ مادې ته مراجعه وکړئ). د مثال په توګه ، د۲ مادې (هـ) فقرې له مخې تړون له غړو هيوادو نه دا غوښتنه کوي چې د يوه شخص، سازمان يا اداري له خوا د ښځوپرضد دتبعيض دله منځه وړلو لپاره ټولو لازمو اقداماتو ته لاس واچوي. د بين الدول عمومي قوانينو او دبشري حقوقو د خاصو تړونونو سره سم که چيرې دولتونه د حقوقو د ترپښولاندې کيدو مخه ونه نيسي او يا دتشدد د اعمالو پلټنه او مجازات ونه کړي، نو هغوی هم د شخصي اعمالو مسئوليت او دتاوان ورکولو ذمت په غاړه لري.

**خاصه مشوره**

**۲۴.** ... د ښځو پرضد د تبعیض د له منځه وړلو کمیټه مشوره ورکوي چې:

(أ) غړي هیوادونه باید لازم او اغیزمن تدابیر ونیسي ترڅو د جنسي تبعیض(که ددولت له خوا وي او یا د شخص له خوا )ټولې بڼې له منځه یوسي ؛

(ب) غړي هیوادونه باید هڅه وکړي چې د کورني تشدد او ناوړه چلند،اجباري زنا،جنسي تیري اودجنسي تشدد د نورو بڼو په هکله قوانین وکولی شي ټولو ښځو ته لازم خوندیتوب او دهغوی کرامت او سپڅلتوب ته احترام تأمین کړي. زیانمنو کسانو ته باید لازم ژغورونکي او حمایتي خدمات برابرشي. د قضایي او دقانون دپلي کوونکو کارمندانو روزنه د ښځو پرضد دتبعیض دله منځه وړلو دتړون د عملي کولو په لاره کې ډیرمهم ګام دی.

(ج) غړي هیوادونه باید دتشدد دحدودو،طلتونو او اغیزو او همداراز د هغوی دمخنیوي په لاره کې د ترسره شوو اقداماتو د مؤثریت په هکله د احصائیواو څیړنو ترسره کول تشویق کړي ؛

(د) اغیزمن ګامونه باید اوچت شي ترڅوډله ایزې رسانې د ښځودره ناوی وکړي او دادره ناوی تبلیغ کړي.

(ه) غړي هیوادونه باید په خپلورپوټونو کې دهغوعاداتو،رسم اورواجونوماهیت اوحدود په ګوته کړي کوم چې دښځوپرضددتشدد سبب ګرزي. هغوی باید د تشدد دله منځه وړلوپه برخه کې د خپلواقداماتو او ددې اقداماتو د اغیزمنتوب په هکله رپوټ ورکړي ؛

(و) ددې عاداتو،رسم اورواجونودله منځه وړلو لپاره بایداغیزمن تدابیر ونیول شي. غړي هیوادونه باید د روزنیزو او اطلاعاتي پروګرامونو له لارې هغه انګیرنې له منځه یوسي کومې چې د ښځو د مساوي توب د لارې خنډ دي (دریم نمبر تجویز، ۱۹۸۷کال) ؛

(ز) د ښځو د جنسي استثمار او دهغوی د قاچاق د له منځه وړلو لپاره د خاصو وقایوي او جزائي اقداماتو پلي کول یو ضروري امر دی ؛

(ح) غړي هیوادونه باید په خپلو رپوټونو کې داټولې ستونزې راوسپاړي او هغو جزائي، وقایوي او بیارغونکو اقداماتو ته اشاره وکړي چې په فحشا کې د ښکیلو او یا د قاچاق او د جنسي استثمار د نورو بڼو له امله د زیانمن شوو ښځو د ژغورنې لپاره تیول شویدي. ددې اقداماتو اغیزمنتوب هم باید توضیح شي ؛

(ط) پرشکایاتو باندې د غوراو د تاوان ورکولو طرزالعمل باید رامنځته شي ؛

(ي) غړي هيوادونه بايد په خپلو رپوټونو کې د جنسي ځورونې په هکله معلومات ورکړي او هغه تدابير په ګوته کړي کوم چې د کار په ځای کې د جنسي ځورونې او د تشدد او جبر د نورو بڼو په وړاندې دښځو ژغورنه کوي ؛

(ك) غړي هيوادونه بايد د کورني تشدد ،اجباري زنا ،جنسي تيري، او د جنسيت پر اساس د نورو جرايمو څخه د زيانمن شووکسانو لپاره سرپناه،روغتيايي کارکوونکي او دبيارغا او مشورتي خدمتونه برابر کړي؛

(ل) غړي هيوادونه بايد د ښځو د سنت (ختنه) کولو د منع کولو لپاره د کميټې د تجويز سره سم(۱۴ نمبر تجويز)لازم تدابير ونيسي او دروغتيايي مسائلو د رپوټ ورکولو په برخه کې داتدابيرڅرګند کړي؛

(م) غړي هيوادونه بايد هڅه وکړي چې د القاح او تکثر په برخه کې د تشدد د مخنيوي لپاره لازم تدابير ونيسي ترڅو ښځې د حاملګۍ د کنترول لپاره د لازمو خدماتو د نشتوالي له امله دجنين غيرصحي سقط ته اړونده نشي ؛

(ن) غړي هيوادونه بايدپه خپلورپوټونو کې ددې ستونزې حدود په ګوته کړي او د ترسره شوو اقداماتو او د هغو د اغيزمنتوب په هکله معلومات ورکړي ؛

(س) غړي هيوادونه بايد هڅه وکړي چې له تشددڅخه د زيانمن شوو کسانو لپاره خدمات د کليواوبانډو د ښځو لپاره هم د لاسرسۍ وړ وي او دضرورت په صورت کې بايد د ليرې پرتو سيمو لپاره خاص خدمات مهياشي ؛

(ع) له تشدد څخه د ژغورنې په اقداماتو کې بايد روزنه او دکارپيداکولوامکانات او همداراز دکار دشرائطو څارنه هم شامل وي ؛

(ف) غړي هيوادونه بايد دکليو او بانډو ښځو ته د تشدد دګواښونو د حدودو او ځانګړتياوو په هکله رپوټ ورکړي، حمايتي او نورو خدماتو ته د هغو لاسرسنه او د نيول شوو تدابيرو اغيزمنتوب په ګوته کړي ؛

(ص) په کورنۍ کې د تشدد د له منځه وړلو اقدامات بايد لاندې تدابير ولري:

۱. د کورني تشدد د حل مدني لارې او د ضرورت په صورت کې جرمي مجازات ؛

۲. د حرمت اوغيرت د ساتنې په نامه دښځو دوهلو او ياوژلو د منع کولو په باره کې داړونده قوانينو تصويبول ؛

۳. له کورني تشدد نه دزيانمن شووکسانو دخونديتوب اوژغورنې لپاره دپناه ځايونو ،بيارغا او مشورتي خدمتونو برابرول ؛

٤. دکورني تشدد د مرتکبينو لپاره د بيارغا پروګرامونه ؛

٥. دهغوکورنيولپاره د حمايتي خدمتونو برابرول کومې چې له زنا او يا جنسي تيري څخه زيانمنې شويدي ؛

(ق) غړي هيوادونه بايد د کورني تشدد او جنسي ځورونې د حدودو او همدارازپه دې برخه کې د نيول شوو وقايوي، جزائي او ترميمي تدابيرو په هکله رپوټ ورکړي ؛

(ر) غړي هيوادونه بايد ټول لازم قانوني او نور اقدامات ترسره کړي ترڅو د جنسيت پراساس د تشدد په وړاندې د ښځو اغيزمن خونديتوب تأمين شي. په دې اقداماتوکې لاندې تدابيې شامل دي:

۱. اغيزمن قانوني تدابير، له هغې ډلې نه مجازات،مدني روغه جوړه او د تاوان ورکولو احکام چې وکولی شي ښځې د تشدد له ټولو بڼو څخه (کورنی تشدد ،دکار په ځای کې جنسي ځورونه او جنسي تيری) خوندي وساتي ؛

۲. دعامه اطلاعاتو او روزنيزو پروګرامونو په شمول دوقايوي اقداماتو ترسره کول چې موخه ئې د ښځې او نارينه درول او موقف په باب د خلکو د انګيرنو بدلون وي ؛

۳. د تشدد د قربانيانولپاره او همدارازد هغو کسانو لپاره چې د تشدد ترګواښ لاندې دي د ژغورونکو تدابيرو لکه سرپناه، بيارغا او مشورتي خدمتونو برابرول ؛

(ش) غړي هيوادونه بايد دجنسيت پراساس د تشدد د ټولو بڼو په هکله رپوټ ورکړي او دا رپوټونه بايد د تشدد د هرې پيښې په هکله ټول موجود آمار او ارقام ولري او پر زيانمنو شوو ښځو باندې د هغو اغيزې په ډاګه کړي ؛

(ت) د غړو هيوادونو رپوټونه بايد د ښځو پرضد دتشدد دله منځه وړلو په باره کې د ترسره شوو قانوني، وقايوي او ژغورونکو اقداماتو په هکله معلومات ولري او ددې اقداماتو اغيزمنتوب جوت کړي.

د ۱۹۹۳کال په دسمبرکې د ملګرو ملتونو عمومی غونډې د ښځوپرضد د تشدد دله منځه وړلو اعلاميه چې پورته ورته اشاره شويده تصويب کړه . په دې اعلاميه کې د ښځوپرضد د تشدد دبشر له حقوقو څخه سرغړونه بلل شويده . ددې اعلاميې موخه داده چې په ملي او بين المللي سويه د عمل او ارزونې يوه کړنلاره وټاکل شي . په اعلاميه کې راغلي دي چې د ښځوپرضدتشدد "په تاريخي لحاظ د ښځې او نارينه ترمنځ د نامساوي اړيکو ښکارندوی دی چې پرښځو باندې د نارينودتسلط او دښځوپرضددتبعيض او په نتيجه کې د هغوی دبشپړې ودې دلارې خنډ ګرزيدلی دی ".

په ۱۹۹۴ کال کې د ملګروملتونو د بشردحقوقوکميسيون پريکړه وکړه چې د ښځوپرضددتشددپه باب يوخاص رپوټچي وټاکل شي . دښځوپرضدتشدد يوه جدي او ډيره

خپره ستونزه ده او همداامر ددې سبب شوچې پدی برخه کې یوخاص رپوټچي وټاکل شي . د خاص رپوټچي ماموريت په ۲۰۰۳ کال دبشر د حقوقو د کميسيون له خوا تمديد شو . دا ماموريت ددې سبب شو چې په ټوله نړۍ کې د ښځوپرضدد تشدد په هکله د منظم رپوټ ورکولو او ژور غور يو سازماني ميکانيزم جوړشي. خاص رپوټچي د خپلو ارزونو،پيشنهاداتو او هيوادونه د سفر له لارې د ښځوپرضد دتشدد دستونزې په هکله د خبرتيا سويه اوچته کړه. خاص رپوټچي د خپل ماموريت په دوره کې دا دندې لرې:

- دښځوپرضد دتشدد دپيښو په هکله له دولتونو سره په بيړنۍ توګه تماس نيول.
- هيوادونو ته د شواهدو دلاسته راوړلو لپاره سفرونه کول.
- د کلنيو رپوټونو وړاندې کول.

دبيجنګ اعلاميه اودعمل پلاتفورم چې په کال ۱۹۹۵ کې دښځو په څلورم نړيوال کنفرانس کې د ۱۸۹ هيوادوله خوا تصويب شويدی ټينګارکوي چې دښځوپرضدتشدد د هغوی د بشري حقوقوڅخه سرغړونه ده او دښځو له خوا د خپلو حقوقو څخه د پوره استفادې دلارې خنډ ګرزي. د بيجنګ پلاتفورم د مساوات،پرمختګ او سولې موخوته درسيدو لپاره ۱۲ دپاملرنې وړ ساحې ټاکلې دي چې بيړنيو اقداماتو ته اړتيالري.

دملګروملتونوعمومي غونډې او د اقتصادی او اجتماعی شورا کميسيونونو په منظمه توګه د ښځوپرضدتشدد ته پاملرنه کړيده . دښځودموقف کميسيون [5] ددې شورا يو دايماً فعال کميسيون دی. دا کميسيون د شورا لپاره په سياسی، اقتصادی، مدنی او اجتماعی ساحو کې دښځو دحقوقود ودې په باب رپوټونه او پيشنهادونه برابروي. دا کميسيون همداراز د ښځو دحقوقو په بيړنيوحالاتوکې دشورا لپاره مشورې وړاندې کوي.

په عمومي توګه ملګروملتونوهڅه کړيده چې دخپل کار په ټولوساحو کې د جنسي برابرتيا مسئله په پام کې ونيول شي .مګر دملګروملتونو د ۲۰۰۲ کال ژورې څيړنې ښودلې ده چې د ملګروملتونو د هغواداروشميرچې دښځوپرضدتشدد ئې دپاملرنې وړدی خورازيات دی، مګر دې موضوع ته پاملرنه او دمنابعو پيمانه خوراکمه ده او اغيزمنې هماهنګۍ ته اړتيالري.

[5] دا کميسيون دااقتصادی او اجتماعی شوراد ۱۹۴۶ کال دجون د ۲۱ نيټې د ۱۱ (۲) پريکړه ليک له مخې جوړ شو.

## تشدد هم تعذیب دی

دتعذیب اوظالمانه، غیرانسانی او تحقیرآمیزه چلند یامجازاتوتړون[6] یوازې په هغوحالاتوکې مطرح دی چې دااعمال ددولتي مامور اویابل رسمي شخص له خواترسره شوي وي . خو په دوهمه ماده کې له دولتونو څخه غوښتل شویدي چې د تعذیب دمخنیوي لپاره په اغیزمنو اقداماتو لاس پوری کړي.

ددې تړون داهدافو سره سم د "تعذیب" اصطلاح هرهغه عمل ته ویل کیږي چې په قصدي ډول پریوشخص باندې سخت فزیکي یا روحي درداو ځورونه راولي ترڅو له هغه اویادریم شخص څخه معلومات یا اعتراف ترلاسه شي، یا هغه دکوم عمل اویا ددریم شخص د کوم عمل دارتکاب او یا مظنونیت له کبله مجازات شي او یا هغه اویا دریم شخص دیوه تبعیضي دلیل له مخې په زور اوجبر سره وویرول شي، په داسي حال کې چې داځورونکی اوربړونکی عمل دیوه رسمي مامور او یا دیوه داسې شخص له خوا چې رسمي اختیارات ولري ترسره شي او یادهغه په رضایت او موافقې سره وي. په دې تعریف کې هغه ربړونه او ځوریدنه نه شاملیږي کومه چې دقانوني مجازاتو په نتیجه کې پیداکیږي. (د ۱ مادې (۱) فقره).

هرغړی هیواد باید اغیزمن عدلي،اداري،حقوقي اونور تدابیر ونیسي ترڅو په خپله خاوره کې دتعذیبي اعمالومخنیوی وکړي (د ۲ مادې (۱) فقره).

هرغړی هیواد باید په خپله خاوره کې دهغو ظالمانه، غیرانسانی اوتحقیرآمیزه اعمالو مخنیوی وکړي کوم چې په لومړۍ ماده کې د تعذیب په تعریف کې نه شاملیږي مګر دیوه رسمي مامور له خوا او یا دیوه داسې شخص له خوا چې رسمي اختیارات ولري ترسره شوي وي او یادهغه په رضایت او موافقې سره وي (د ۱۲ مادې (۱) فقره).

## وسله وال کړکیچونه

دوسله والو کړکیچونو په حالاتو کې د ښځو پرضدتشدد دبشري حقوقو دنړیوال قانون او په خاصه توګه د ژنیو دکنوانسیون له خوا منع شویدي چې په کړکیچ کې په ټولو ښکیلو کورنیو او بهرنیو خواوو پورې اړه لري.

د امنیت د شوراد ۲۰۰۰کال **۱۳۲۵**نمبر پریکړه لیک د وسله والو کړکیچونوپه حالاتو کې دښځوپرضد دتشدد په هکله یو اساسې سندبلل کیږي. په دې سند کې د وسله والوشخړو په حالاتوکې او ترهغووروسته دښځواونجونودحقوقودساتنې په هکله دقانون دپوره پلي کولو پرضرورت ټینګار شویدې.

---

[6] داتړون دکال ۱۹۸۷ دجون په ۲۲ نیټه نافذ شو.

د جزأدنړیوالې محکمې د روم اساسنامه[۷] هغه تړون دی د کوم له مخې چې د جزأ نړیواله محکمه جوړه شوه . ددې سند له مخې دښځوپرضد دتشدد ډیرې بڼې دجنګي جرایمو او دبشریت پرضد دجنایت په توګه پیژندل شویدي.

لاندې اعمال جنګي جرایم بلل کیږي:

- اجباري
- جنسی غلامي
- اجباري فحشا
- په اجباري توګه امیندواره( حامله ) کول
- اجباري عقامت
- او دجنسي تشدد نورې بڼې چې ورته شدت ولري.

که چیرې دا اعمال په آګاهانه ډول دملکي کسانوپرضد دیوې سیستماتیک او پراخ یرغل په توګه ترسره شوي وي، نوهغوې دبشریت پرضد جنایت بلل کیږي.

دژنیو د ۱۹۴۹کال کنوانسیونونه (اودرې اضافي پروتوکولونه)[۸]

دژنیوکنوانسیونونه دا غوښتنه کوي چې له ټولو هغوکسانوسره چې په شخړوکې ئې فعاله برخه نه وي اخیستې انساني چلند وشي او دجنسیت په شمول هیڅ ډول توپیر په نظرکې ونه نیول شي (دریمې مادې ته مراجعه وکړی ۳ ).

- ۳ (۱) ماده : له هغوکسانوسره چې په شخړو کې ئې برخه نه وی اخیستې او همداراز دوسله والوځواکونوغړي چې وسله ئې په ځمکه ایښې وي او یا د ناروغی، ټپي کیدو، توقیف او یا کوم بل علت له امله غیرمحارب وي باید انساني چلند وشي، بیله دې چې نژاد، پوستکی،مذهب یا عقیده،جنس، دزیږیدنې ځای،شتمني او یا بل ډول ورته توپیر په پام کې ونیول شي.
- ۲۷ ماده (څلورم کنوانسیون): ... " دښځوحرمت باید له هرډول یرغل نه خوندي او د اجباري زنا،اجباري فحشا او هرډول بل اهانت په وړاندې باید د هغو خاصه ساتنه وشي. "

---

[۷] دکال۲۰۰۲ دجولای به لومړۍ نیټه نافذ شو.

[۸] دژنیوکنوانسیونونه څلور تړونونه لري چې په ژنیوکې جوړ شوي او دبشر دوستانه مسئلو په هکله د بین الدول حقوقو اصول بیانوي.

## د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ۲۰۰۲ کال ژوره څيړنه

په ۲۰۰۲ کال کې د ملګرو ملتونو سرمنشي د ښځو پر ضد د تشدد په هکله يوه ژوره څيړنه خپره کړه. دا رپوټ د ملګرو ملتونو د دارالنشا د اقتصادي او اجتماعي چارو د اداري د ښځو د ودې د څانګې له خوا جوړ شوی ؤ.[۹] ډيرو دولتي سازمانونو، انجيوګانو او نورو نړيوالو ډلو او ماهرانو د دې رپوټ په جوړولو کې برخه اخيستې وه.

## سيمه ايز تړونونه / اسناد

د تشدد په وړاندې د ښځو د ساتنې په هکله ځينې سيمه ايز تړونونه موجود دي. د مثال په ډول د بشري حقوقو او اساسي آزاديو اروپايي کنوانسيون، د امريکا د بشر د حقوقو کنوانسيون او د افريقا د بشر او ولسونو د حقوقو منشور ټول هغه اسناد دي چې په دې هکله احکام لري، که څه هم هغوی په خاصه توګه د ښځو په باب نه دي مګر په عمومي ډول د تشدد په وړاندې د افرادو ساتنه کوي.

د بشري حقوقو او اساسي آزاديو اروپايي کنوانسيون (۱۹۵۰)[۱۰] يو ډير مهم سند دی. د دې سند د تطبيق ساحه د اروپا د بشر د حقوقو د محکمې په صلاحيت پورې اړه لري. دا محکمه د فرانسې په سترازبورګ کې ده.

- ۳ ماده: هيڅوک تر تعذيب يا غيرانسانی او تحقير آميزه چلند يا مجازاتو لاندې نشې راتلی.
- ۸ ماده: هر شخص حق لري چې د هغه شخصي او کورنی ژوند، د هغه کور او د هغه مراسلاتو ته درناوی وشي.
- ۱۳ ماده: هر شخص چې په دې کنوانسيون کې مندرج حقوق او آزادۍ يې تر پښولاندې شوې وي دا حق لري چې د ملي قضائي ادارې نه د اغيزمن غور غوښتنه وکړي حتی که تخلف کوونکی اړخ د رسمي مقام په توګه عمل کړی وي.
- ۱۴ ماده: په دې کنوانسيون کې د يادشوو حقوقو او آزاديو څخه استفاده بايد له هر ډول جنسي، نژادي، پوستکي، ژبنيز، مذهبي، سياسي يا عقيدوي، ملي، ټولنيز، په لږکيو پورې د تعلقيت، ملکيتي، د زيږيدنې د ځای او مدني حالت له تبعيضونو څخه پرته تأمين شي.

---

[۹] A/۲۱/۱۲۲/Add.۱ د کال ۲۰۰۲ د جولای ۲

[۱۰] دا کنوانسيون د اروپا د شورا له خوا تصويب شوی او د کال ۱۹۵۳ په سپتمبر کې نافذ شو.

د ښځو پرضد دتشدد د مخنیوي،مجازاتو اوله منځه وړلو امریکائي کنوانسیون (دکال ۱۹۹۴د بیلیم دوپارا تړون)[11] هغه یوازینی نړیوال سند دی (یعنی اعلامیه نده) چې په خاصه توګه د ښځوپرضددتشدد دله منځه وړلو لپاره جوړشوی دی. دا سند په وار وار دښځو پرضدد تشدد په باب د یوه التزامي تړون په توګه نومول شویدی. دې سند دولتونو ته د ښځوپرضد دتشدد د مخنیوي او مجازاتو لپاره یو لست وړاندې کړیدی چې داد لاندې یې بیلګې دي:

- **۳** ماده: هره ښځه حق لري چې هم په ټولنیز او هم په شخصي ژوند کې له تشدد څخه خلاصه وي.
- **۵** ماده: هره ښځه حق لري چې له هغو مدني، سیاسی، اقتصادی، اجتماعی او فرهنگی حقوقوڅخه چې د بشر دحقوقو په سیمه ایزو او نړیوالو اسنادو کې ذکرشویدي په پوره او ازادانه ډول ګټه واخلي او ددې حقوقو په پوره ساتنې باندې ډاډه واوسي. غړي هیوادونه دا په رسمیت پیژني چې د ښځوپرضدتشدد له پورتنیو حقوقو څخه د ښځو د استفادې مخنیوی کوي.
- **۷** ماده: غړي هیوادونه دښځوپرضد دتشدد ټولې بڼې غندي او ژمنه کوي چې له ټولو لازمو امکاناتو څخه په استفادې سره بیله ځنډه د ددې ډول تشدد د مخنیوي، مجازاتو او له منځه وړلو سیاستونه پلي کړي...

## دوهم-دولتي اقدامات

### حقوقی سیاست

د ښځو پر ضد دتشدد د ټولو بڼو په هکله د قوانینو د تنفیذ، تطبیق او څارنې ضرورت په ډیرو نړیوالو او سیمه ایزو اسنادو کې په ګوته شویدی. د هالند په مقابل کې د x او y په دعوی کې (راتلونکو پاڼو ته مراجعه وکړی) داروپا دبشري حقوقو محکمې جوته کړه چې هالند د یوې ځوانې معیوبې ښځې داجباري زنا په هکله لازم جنائي قوانین نه دي وضع کړي نوځکه دې هیواد دخپلوبشري حقوقو له مسئولیتونو څخه سرغړونه کړیده.

---

[11] دا کنوانسیون د امریکایی هیوادو د عمومي غونډې له خوا دبرازیل په بیلیم دو پاراکې لاسلیک او دکال ۱۹۹۵ دمی په میاشت کې نافذ شو.

## جزائی عدلی نظام

دولتونه ونده لري چې دښځوپرضددتشدد داعمالو پلټنه وکړي . په دې ډول پلټنو کې باید له هغو میتودونو څخه کار واخیستل شي چې دښځولپاره دسپکاوي سبب ونه ګرزي. دبلغاریا په مقابل کې د م.سی. په دعوی کې (راتلونکو پاڼو ته مراجعه وکړۍ) داروپا دبشر دخقوقو محکمې داغیزمنې پلټنې اوتحقیق له لارې دجزائي قانون د اغیزمن تطبیق په هکله دهیوادونو د مثبتې دندې یادونه وکړه.

دولتونه د پلټنو ترڅنګه دامسئولیت هم لري چې دښځوپرضددتشدد عاملین دعدلي تعقیب اومجازاتولپاره دقانون منګولوته وسپاري . دجزائي اجراأتو نورمونه او له هغې ډلې نه د مدارکو او عدلي مراحلو اصول باید دجنسي حساسیت په پام کې نیولوسره ترسره شي ترڅوښځې د بیاتشدد قرباني نشي . دعدلي اجراأتو ساده کول، دمجنی علیه محرمیت، دشاهدانو خوندیتوب او دماهرو کارکوونکو روزنه ټول هغه اقدامات دي چې په عدلي اجراأتو کې دجنسي حساسیت په رامنځته کولو کې مرسته کوي.

## مجنی علیه ته رسید ګی

دولتونه مکلف دي چې له تشدد څخه د زیانمنوشوو ښځولپاره عادلانه او اغیزمن علاج مهیا کړي. داعلاج بایدلاندې برخې ولري: عدالت ته لاسرسنه، درسیدلي زیان تاوان، اعاده، بیارغااووقایوي تضمینات. مدني قوانین باید جزائي تدابیر تکمیل کړي او د مجنی علیه دبیارغا لپاره ډیر اهمیت لري. تجربو ښودلې ده چې د مدنې لاروچارو موجودیت لکه د مدني خوندیتوب حکمونه، تبعیضي ضد قوانین، دمرتکبینو او دولتي مامورینو پرخلاف دتاوان د دعوی کولو مدني قوانین او د زیانمنو کسانو تعاوني صندوقونه په دې برخه کې ډیر اغیزمن دي.

## حمایتی خدمتونه

هغه ښځې چې له تشدد څخه زیانمنې شوې وي، سرپناه،طبي،روحي او نورومرستو او همدارازحقوقي مساعدت ته اړتیالري. د هنګري[12] پرضد د ای.تی د دعوی په قضیه کې شکایت کوونکې سرپناه ته لاسرسنه نه درلوده، ځکه چې په هیوادکې هیڅا هغې او دهغې دوو ماشومانو ته چې یو ئې معیوب هم ؤداوسیدوځای نه ورکاوه. برسیره پر دې د هنګري په قوانینوکې حمایتي احکام او منع کوونکي دساتیر نه ؤ موجود . د ښځوپرضد دتبعیض دله

---

۲[12] نمبراطلاعیه / ۲۰۰۳، ۲۰۰۵ دښځو پرضد دتبعیض دله منځه وړلو کمیټه

منځه ورلو کمیټې داجوته کړه چې د شکایت کوونکې مخې ته موجودو امکاناتو د هغې دپخواني میړه له ظلم څخه د بیرنی ژغورني شرائط نه شو برابرولی. کمیټې یادونه وکړه چې له کورني تشدد څخه د زیانمنو کسانو لپاره د اغیزمنو بیارغا شرائطو اونورو مرستوبرابرول، عدالت ته د هغوی د خوندي او ژرترژره رسیدلو لپاره ضروري امر دی.

## دعاداتو او رواجونو بدلون

CEDAW له غړو هیوادونو څخه غوښتنه کوي چې هغه اجتماعی ا و فرهنگی عادات او رواجونه چې دښځو دتبعیض سبب گرزي له منځه یوسي. د بیلیم دوپارا کنوانسیون له غړوهیوادوڅخه غوښتنه کوي چې "ټول هغه عرفي او قانوني رسم اورواجونه تعدیل کړي کوم چې دښځوپه مقابل کې دتشدد دوام زغمي او یاهغه ته لمن وهي".

د CEDAW دکمیټې له خوا د مکسیکو په سیداد خوریز کې د ښځو په اختطاف، اجباري زنا او قتل کې د اجتماعي- فرهنگي عاداتو او رسم اورواجونو رول څیړل شویدی. کمیټې ټینگاروکړچې ددې حالت بدلون یوه پراخ او اغیزمن بدلون ته اړتیالري.

## ظرفیت جوړونه اوروزنه

ټول هغه کسان چې دښځوپرضد دتشدد په برخه کې کارکوي، لکه دقانون پلي کوونکي، دمهاجرت، قضائي، طبي او ټولنیزوچاروکارکوونکي، یوه داسې ظرفیت ته اړه لري چې وکولای شي د جنسیت پراساس د حساسیت په نظرکې نیولوسره د تشدد په وړاندې غبرگون وښیي.

## ارقام او احصائیه

دقیق اوجامع آماراو ارقام او اسناد دښځو پرضدد تشدد په وړاندې ددولت د مسئولیت د څارنې او ارتقأ لپاره ډیراهمیت لري او داغیزمن غبرگون درامنځته کیدو سبب گرزي. دعلمي څیړنو، آمارو او احصائیو د راټولولو په برخه کې ددولت ونډه د پالیسی په اسنادوکې څرگنده شویده.

## دريم ـ دمقايسوي نړيوالو حقوقو قضائي آرا ـ اجباري زنا

دښځو پرضد جنسي تشدد د تبعيض له يوه پراخ کلچر څخه سرچينه اخلي دکوم له مخې چې ښځې له نارينو سره دمساوي حقوقو نه بې برخه شوي او همدا راز د تشدد له لارې دښځو له بدن څخه د شخصي رضايت لپاره ګټه اخيستل قانوني شوي دي. هغه ټولنيز او کلتوري نورمونه چې ښځې له نارينو سره له مساوي حقوقو څخه محروموي په حقيقت کې ددې سبب ګرزي چې ښځې دجنسي تيري په مقابل کې لا نور هم آسيب پذيره شي.

دبشر دحقوقو دنړيوالو معيارونو له مخې هيوادونه مکلف دي چې هغه جنسي تشدد چې د دولت له خوا اويا د دولت ديوه استازي له خوا ترسره کيږي ودروي. دښځو پرضد جنسي تشدد او تيرى د وسله والو شخړو په حالاتو کې، کله چې ښځې د مهاجرينو او يا بيځايه شوو کسانو په توګه آسيب پذيره وي صورت مومي. همدا راز د توقيف، غلامۍ، او يا دکورنۍ مزدورۍ، اجباري واده، اجباري فحشا، دښځو دقاچاق او دښځو دختنه(سنت) کولو په حالاتو کې د هغوی پرضد جنسي تشدد او تيري ترسره کيږي. د ملګرو ملتونو د ۲۰۰۲ کال د رپوټ له مخې (پورته مراجعه وکړۍ) له اجباري زنا څخه د جګړې د يوې وسيلې په توګه استفاده کول او دښځو پرضد تيري په وسله والو نښتو کې دښځو پرضد د تشدد تر ټولو معمولي بيلګې دي.
لاندې قضئيې د اجباري زنا او دنړيوالو حقوقو له خوا د هغوی د غور په باب دي.

### د روآندا لپاره دجزأ نړيواله محکمه

دې محکمې په ځينو مشخصو حالاتو کې جنسي تشدد او اجباري زنا د تعذيب ديوې وسيلې، دبشريت پرضد دجنايت او دنژادوژنې (جينوسايډ) د يوه عنصرپه توګه پيژندلي دي. د ۱۹۹۸کال داکتوبر په ۲ نيټه د جان پال اکايي سو په مقابل کې د څارنوال په قضيه کې[۱۳] د جزا نړيوالې محکمې پخوانی ښاروال جان پال اکايي سو دنژادوژنې او دبشريت پرضد دجنايت په تور په درې ځله ابدحبس او داجباري زنا په تور او دپراخو جنسي تيريو دتشويق په تور په ۸۰ کالونو بند محکوم کړ. دا جنايات په ۱۹۹۴ کال کې د تبا په سيمه کې د توتسي قبيلې د عامې وژنې په ترځ کې ترسره شوي ؤ. دا لومړی ځل ؤچې يوې نړيوالې محکمې د يوې کورنۍ جګړې په ترځ کې دجنسي تشدد په باب حکم صادر کړ او دا لومړی ځل ؤچې اجباري زنا د نژادوژنې او تعذيب ديوه عمل په توګه وپيژندل شول.

[۱۳] ددوسيې ګڼه: ICTR-۹٦-٤-T

د محاكمې ديوان يادونه وكړه چې دنژادوژنې د جرايمو د مخنيوي او مجازاتو د تړون له مخې نژادوژنه " ديوې ډلې دغړو دوژلو ياهغوى ته دجدي جسماني ياروحي ضرر رسولو په شمول دهغوجناياتو ترسره كول دي چې موخه ئې ديوه ملي، قبيلوي، نژادي اويامذهبي ډلې بشپړ او يا قسمي له منځه وړل وي". دمحكمې ديوان دا ثابته كړه چې په رواندا كې د توتسي ډلې پرضد په ۱۹۹۴ كال كې نژادوژنه ترسره شويده. دې ديوان دا په ډاګه كړه چې كه څه هم يوې وسله والې شخړې بنائي دنژادوژنې لپاره لاره اواره كړې وي او د توتسي دوسله والو ډلو موجوديت دهغوى پرضد دتشدد ديوه علت په توګه پكارول شوى وي، مګر دوسله والې شخړې موجوديت دنژادوژنې تبرئه كوونكى حالت نشي ګڼل كيداى. محكمې داهم ياده كړه چې اكايى سو ديوه رسمي استازي په توګه پرسيمه ايزو پوليسو باندې اغيزمن قدرت درلود اودنظم دساتلومسئوليت ورپه غاړه ؤ، مګر د ۱۹۹۴ كال داپريل تر ۱۸ وروسته ده دتوتسي پرضد دتشدد په اعمالو كې برخه درلوده، دوسله والې اجباري زنا په پيښو كې ئې ګډون درلود او حتى دوژلو امرونه ئې صادركړي ؤ.

محكمې دايادونه هم وكړه چې په نړيوالو حقوقو كې داجباري زناپه هكله د ټولو له خوا يومنل شوى تعريف نشته .محكمې اجباري زنا د تيري يوه بڼه وګڼله او هغه ئې داسې تعريف كړه: " اجباري زنا يوفزيكي تيرى دى چې جنسي خصلت لري او په اجباري ډول پريوچا تحميل كيږي. جنسي تيرى او اجباري زنا يوازې دانسان په بدن باندې په فزيكي تجاوز سره نه محدوديږي او كيداى شي له جنسي دخول او حتى جنسي تماس څخه پرته هم ترسره شي. محكمې يادونه وكړه چې اجباري حالت حتمی نه دی يوازې دفزيكي ځواک په ښودلو سره رامنځته شي. ويرول، ارعاب، تهديد او دجبر او اكراه نورې بڼې چې د ويرې او بيوزلتوب سبب شي هم اجباري حالت ګڼل كيږي. "

دمحكمې ديوان د " سرغړونو د څوارخيزتوب " له دكترين څخه كار واخيست او ياده ئې كړه چې نژادوژنه او دبشريت پرضد جنايت دوه بيلې سرغړونې دي، مګر كيداى شي ديوه واحد عمل په واسطه ترسره شي. محكمې يادونه وكړه چې نژادوژنه يو "خاص عمدی" جنايت دی چې ديوه خاص قصد دمشخصواعمالوله مخې څرګنديږي . محكمې په نژادوژنه كې دګډون اوهمداراز نژادوژنې ته دخلكو دپارولو جرمونه تعريف كړل او دبشريت پرضد دجناياتو په هكله ئې پخوانيوقضايې فيصلو ته په مراجعې سره داڅرګنده كړه چې داعمل "دتبعيضي دلايلو پراساس دملكي كسانوپرضد دسيستماتيک اوپراخ تيري "يوه برخه ده.

محكمې درايو په اتفاق سره اكايي سو محكوم كړاو هغه ئې دنژادوژنې، دبشريت پرضد دجنايت او په خاصه توګه د يوې قبيلې دمحو كولو، اجباري زنا، قتل، تعذيب او غيرانساني

اعمالو اوهمداراز نژادوژنې ته دخلکو دپارولو په تور مقصر وباله . محکمې ټینګاروکړچې داجباري زنا اوجنسي تیري اعمال په دې قضیه کې دنوروا عمالو په شان نژادوژنه ګڼل کیږي او " اجباري زنا او جنسي تیری مجنی علیه ته ترټولو ناوړه دردا ورنځ اړوي، ځکه چې هغه هم له جسمي او هم له روحي اړخه ځوروي ".

## دبشر دحقوقو بين الامریکایي محکمه

راکیل مارتی دی میهیا د پیرو په مقابل کې، ددوسیې ګڼه ۱۰,۹۷۰،درپوټ نمبر ۹۲/۵ ، دبشر دحقوقو بین الامریکایي محکمه (کال ۱۹۹۲)

دا قضیه اکثراً د امریکا داجباري زنا دمنع دتړون دیوه بااعتباره تفسیر په توګه په ګوته کیږي. ددې قضیی په باب حقایق په لنډ ډول دادي: میهیا په پیرو کې د معیوبو ماشومانو د روزنتون مدیره وه چې د هغه هیواد دوسله والوځواکونود شورشیانو ضد سازمان د یوه غړي له خوا ورسره اجباري زنا وشوه . تر دې پریکړې مخکې د امریکا د بشر دحقوقو محکمې غوښتل اجباري زنا یوازې په محرمیت باندې دتجاوز په توګه چې د امریکایي تړون د ۱۱ مادې سره سم منع ده او یا د غیرانساني چلند دیوې خفیفې بڼې په توګه چې دهمدې تړون په ۵ ماده کې منع شویدي، وپیژني.

مګر په دې قضیه کې د امریکا د بشردحقوقومحکمې دا درک کړه چې اجباري زنا کیدای شي تعذیب وي که چیرې هغه: "

١. یو قصدی عمل وي کوم چې پریوچاباندې جسماني یاروحي درد او ربړه تحمیل کړي؛
٢. د یوه هدف او مقصد لپاره وي؛ او
٣. د یوه دولتي مأمور له خوا اویا دهغه په تحریک دیوه غیررسمي شخص له خوا ترسره شوی وي. "

محکمې بالاخره دمیهیا په قضیه کې د تعذیب د پورتنیو ټولو اجزاوو لپاره شواهد پیداکړل: " راکیل میهیا داجباري زنا قرباني ده او په دې وسیله هغې ته جسماني او روحي درد او رنځ رسیدلی دی ...پرهغې باندې جنسي تیری شویدی ترڅو هغه مجازات کړي او شخصاً یې وویروي... هغه چا چې پرهغې تیری کړیدی د امنیتي ځواکونو کارکوونکی ؤ .. "

دامریکا دبشر دحقوقو محکمې دخپل تحلیل په نتیجه کې فیصله وکړه چې د میهیا په قضیه کې اجباري زنا د تعذیب سرحد ته رسیدلې وه . لکه څنګه چې د پیرو یوه دولتي کارکوونکي دا

اجباري زنا کړی وه، محکمې مسئولیت دپیرو په غاړه کیښود . محکمې د پیرو له دولت نه وغوښتل چې مجرم مجازات کړي او مجنی علیه ته عادلانه تاوان ورکړل شي..

د امریکا دبشر دحقوقو محکمې ټینګاروکړچې د میهیا اجباري زنا نه یوازې دامریکایي تړون له ۵ مادې څخه سرغړونه ده، بلکه د همدې تړون د ۱۱ مادې تخلف هم دی. د ۱۱ مادې (۱) فقره د محرمیت حق تضمینوي او دانسان د عزت او کرامت نه ساتنه کوي. محکمې دا توضیح کړه چې "... جنسی تیری انساني کرامت ته یو ه عمدي لاس اچونه ده. او له همدې کبله دا موضوع د ' شخصی ژوند' په مفهوم کې شامليږي. "

## د بشر دحقوقو اروپايي محکمه

د بشر دحقوقو اروپايي محکمه ، غړي هیوادونه په هغه صورت کې چې اجباري زنا د هغو دکارکونکو له خوا ترسره شوي وي او یا دولت په ملي سویه لازم تدابیر نه وي نیولي، مسئول ګڼي .

دبشر دحقوقو اروپايي محکمې د امریکا د بشر د حقوقو د محکمې په شان په لومړي سرکې اجباري زنا د شخص د محرمیت د حق څخه د سرغړونې په نامه تعریف کړی وه. د هالند په مقابل کې د x او y په قضیه کې (د ۱۹۸۵ کال د مارچ ۲۶ نیټه) دبشر د حقوقو اروپايي محکمې دا وټاکله چې اجباري زنا دشخصي محرمیت حق ترپښنو لاندې کوي. عارضینو ادعا کوله چې د معیوبو ماشومانو د یوه روزنتون د مدیرې اوښي له یوې ۱۶ کلنې نجلۍ سره چې په همدې روزنتون کې اوسیده اجباري زنا کړیده.

محکمې دا جوته کړه چې د ۸ مادې له تعریف سره سم "شخصي ژوند د یوه شخص دجسماني او روحي بشپړتیا څخه عبارت وي او د هغه یا هغې جنسي ژوند هم پکې شامل دی. " که څه هم د هالند ددولت کوم کارکوونکي دا اجباري زنا نه وه کړې، مګر محکمې د هالند دولت مسئول وباله ځکه چې په ملي سویه په عقلي ناروغۍ د یوې اخته ځوانې نجلۍ باندې دجنسي تیري په باب ئې لازم جزائي قوانین او مقررات نه ؤ وضع کړي. محکمې د هالند دولت د ۳۰۰۰ هالندي ګیلډرو د تاوان په ورکولو محکوم کړ .

خو بالاخره د بشر دحقوقو اروپائې محکمې د امریکا د بشر دحقوقو دمحکمې د قضائي آراله پرمختګ نه په ګټه اخیستلو سره دا ومنله چې اجباري زنا یو تعذیب او دغیرانساني چلند یوه ډیره وخیمه بڼه ده.

آیدین د ترکیې په مقابل کې ، د ۱۹۹۷ کال د سپتمبر ۲۵

دې قضیې ثابته کړه چې اجباري زنا کیدای شي داروپا د بشر دحقوقود کنوانسیون د ۳ مادې څخه سرغړونه وبلل شي ( په دې ماده کې تعذیب او غیرانساني او تحقیرآمیزه چلند منع شویدی ) ځکه چې اجباري زنا کیدای شي په ځینو حالاتو کې د تعذیب حد ته ورسیږي. د آیدین په قضیه کې د بشر دحقوقو اروپائې محکمې هغه تورونه تر غور لاندې ونیول د کومو له مخې چې ادعا شوې وه د ترکیې د ژاندارمو یوه منسوب پر یوې کردۍ نجلۍ باندې چې په غیرقانوني توګه توقیف شوې وه جنسي تیری کړیدی. محکمې څرګنده کړه چې " دتعذیب خاصه نښه " یوازې پر " عمدی اوغیرانسانی چلند چې د ډېر وخیم او ظالمانه ځورونې سبب شي "لګول کیږي.

مهمه دا ده چې محکمې دا تائید کړه چې د اروپا د بشر د حقوقو د کنوانسیون د موادو له مخې دا حتمی نه ده چې ددولتي مامور له خوا د اجباري زنا هره قضیه دې تعذیب وبلل شي. سره له دې د بشر دحقوقو اروپایي محکمې دا څرګنده کړه چې " ددولت د کارکوونکي له خوا له یوې محبوسې سره اجباري زنا باید ډېر ه شدیده او وخیمه ځورونه وبلل شي، ځکه چې په دې حالت کې متخلف د مجنی علیه د آسیب پذیرۍ او بیدفاعی څخه ناوړه استفاده کوي. " محکمې په دې هم ټینګار وکړ چې مجنی علیه " داجباري جنسي دخول له امله سخت فزیکي درد احساسوي، کوم چې په راتلونکې کې هم د هغې د جسمي او روحي رنځ او ځورونې سبب ګرزي. " محکمې فیصله وکړه چې ترکیه داروپا د بشر دحقوقو دکنوانسیون په وړاندې دخپلو تعهداتو څخه عدول کړیدی ځکه چې په ملي سویه یې لازم حقوقي او قانوني تدابیر نه دي نیولي. هغه هیواد مجنی علیه ته د ۲۵۰۰۰ سترلنګ پونډو په تاوان ورکولو محکوم شو.

ام. سی. د بلغاریا په مقابل کې ـ د ۲۰۰۳ کال د دسمبر ۴

ام. سی. محکمې ته شکایت وکړ چې د بلغاریا په قوانینو او مقرراتو کې داجباري زنا او جنسي تیریو په مقابل کې اغیزمن حمایت نشته او یوازې د هغو قضایاو پلټنه کیږي په کومو کې چې مجنی علیه له ځانه فعال مقاومت ښودلی وي. دې میرمنې ادعا کړې وه چې بلغاریا د بشر دحقوقو د اروپائي تړون د پریکړو سره سم مسئولیت لري چې د افرادو د فزیکي بشپړتیا اوشخصي ژوند نه ساتنه وکړي او اغیزمن حقوقي وسایل برابر کړي. هغې دا هم په ګوته کړې وه چې دولتي مقاماتو پورتنۍ قضیه په اغیزمنه توګه نده پلټلې. هغې په خپل شکایت کې په لاندې موادو اتکأ کړې وه: ۳ ماده(دتحقیرآمیزه چلند ممنوعیت)، ۸ ماده(شخصي ژوند ته د دره ناوي حق)، ۱۳ ماده(لازم حقوقي غور ته لاسرسنه) او ۱۴ ماده(دتبعیض ممنوعیت).

عارض د بلغاریا تبعه وه چې په ۱۹۸۰ کال کې زیږیدلې وه او ادعا یې کوله، کله چې ۱۴ کلنه او د لسو میاشتو وه د دوو کسانو له خوا ورسره اجباري زنا وشوه. پلټنې پدې نتیجه پایته ورسیدې چې په زور سره جنسي مقاربت ته دعارض دمجبورولو په هکله په کافي اندازه شواهد نشته. سیمه ایز څارنوال جزائي اجراأت پای ته ورسول ځکه دزور او یا تهدید داعمالو په هکله یې لازم شواهد نه درلودل. په خاصه توګه د عارض له خوا دمقاومت او یا له نورو څخه د مرستې غوښتنې د هڅو نښانې موجودې نه وې. د عارض مرافعه غوښتنه هم ناکامه شوه.

د متخصصینو د هغو نظریاتو له مخې چې ام.سي. محکمې ته وړاندې کړې وې دا جوته شوه چې د اجباري زنا په مقابل کې "frozen fright" (traumatic psychological infantilism syndrome) یو ډیر عام غبرګون دی، چیرې چې ویریدلې مجنی علیه بیله هیڅ ډول مقاومت څخه ځان تسلیموي او یا هڅه کوي په رواني لحاظ اجباري زنا له خپل ذهن نه وباسي. د اجباري زنا د ۲۵ پیښو څخه چې له ۱۴ کلنو څخه تر ۲۰ کلنو ښځو سره شوې وې، ۲۴ ښځو له تیري کوونکو سره په پورتني ډول غبرګون ښودلی ؤ. د بشر دحقوقو اروپایي محکمې د رایو په اتفاق سره پریکړه وکړه چې ددولت له خوا دبشر دحقوقو داروپایي تړون د ۳ او ۸ مادو څخه سرغړونه شویده. محکمې فیصله وکړه چې بلغاریا دې ۸۰۰۰ یورو تاوان ورکړي.

محکمې ټینګار وکړ چې د پورتني کنوانسیون د ۳ او ۸ مادو سره سم غړي هیوادونه دا مکلفیت لري چې داجباري زنا په هکله د مجازاتو قوانین وضع کړي او داغیزمنو پلټنو او تحقیقاتو له لارې دهغوی پلي کول تأمین کړي. دا قضیه د قوانینو د پلې کولو دڅارنې اهمیت ته ګوته نیسي.

## د هند ستره محکمه

د اوسپنې د پټلیو دمدیره هیئت رئیس د چندریماداس په وړاندې (AIR ۲۰۰۰ SC ۹۸۸ AIR)

له یوې بنګله دیشۍ میرمنې سره د هند داوسپنې د پټلیو د کارکوونکو له خوا د هغې کمپنۍ په یوه ودانۍ کې اجباري زنا ترسره شوه. دا قضیه د عامه غوښتنو له خوا د اوسپنې د پټلیو د مدیره هیئت په مقابل کې داجباري زنا په تور محکمې ته راجع شوه.

سترې محکمې په داسې حال کې چې دراتلونکی لپاره ئې یو قضائي استدلال جوړاوه پریکړه وکړه چې مجنی علیه ته تاوان ورکړل شي ځکه چې د هغې اساسي حقوق په لاندې دوو دلیلونو سره نقض شوي ؤ:

- د اساسي قانون د اصولو پر مبنا د ملي قضائي آراله مخې (۲۱ ماده د ژوند او شخصي آزادۍ مصئونيت )
- د بشر دحقوقو د عمومي اعلاميې پرمبنا دبشر دحقوقو قضائي آرا. دا اعلاميه چې په نړيواله سويه د اخلاقي قانون په توګه پيژندل کيږي په ۱۹۴۸ کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له خوا تصويب شويده.

محکمې په مشخصع توګه دا څرګنده کړه چې د بشر د حقوقو عمومي اعلاميه او دهغې اصول د ضرورت په وخت کې په کورنيو قضائي چارو کې کارول کيدای شي. محکمې دا هم جوته کړه چې " لکه څنګه چې د 'ژوند' کلمه هم په نړيواله اعلاميه کې د يوه اساسي حق په توګه ياده شويده، نو ځکه هم دا کلمه بايد د سترې محکمې په پخوانۍ فيصله کې چې د اساسي قانون په ۲۱ ماده پورې اړه لري، هماغه معنی ولري ". سترې محکمې دا هم اعلان کړه چې "زمونږ اساسی قانون د بشر د حقوقو په عمومي اعلاميه کې ټول ذکر شوي اساسي حقوق د خپلو هيوادوالو او نورو لپاره تضمينوي".

دا قضيه ډير اهميت لري ځکه هغه د بشر دحقوقو د نړيوالې اعلاميې د اصولو له مخې حل شوه او دائې څرګنده کړه چې دبشر دحقوقو نړيوال اصول په هند کې د تطبيق وړ دي.